# شتمني SHTAMANI
اوونیزه

د افغانستان اسلامي امارت

د مالیې وزارت

پنجشنبه | د شوال المکرم ۹ - ۱۴۴۵ال س/ د وری ۳۰ - ۱۴۰۳ال ل/ د اپریل ۱۸ - ۲۰۲۴ز/دریم کال / ۹۵ گڼه/ ٤ مخیزه




د شوال المکرم د میاشتي روژې فضیلت

د حدیث ژباړه: له حضرت ابو ایوب رضي الله عنه څخه روایت دئ، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: چا چې د رمضان میاشتې روژه و نیوله بیا وروسته د شوال د میاشتې شپږ ورځې روژې و نیسي داسي دئ لکه ټول عمر ئې، چې روژه نیولې وي.

فضیلت رزوه ماه شوال المکرم

ترجمه حدیث: از ابو ایوب انصاری رضی الله عنه روایت است که رسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاد فرمود: کسیکه روزه ماه مبارک رمضان را بگیرد، و سپس در ماه شوال نیز شش روزه بگیرد، مثل که کل عمر روزه گرفته باشد.

( د مالیې وزارت د دعوت او ارشاد ریاست، له لوري)

## سر مقاله

### تاثیرات بارندگی موسمی بر رشد زراعت در کشور

بارندگی موسمی می تواند بر خشکسالی تاثیرات قابل ملاحظه داشته باشد که به طور معمول کاهش و افزایش آب در مناطق زراعتی را همراه باشد. بارندگی می‌تواند تأثیر زیادی بر رشد زراعت و تولید محصولات داشته و به شکل مستقیم و غیر مستقیم رخ دهد و وابسته به عوامل مختلفی از جمله شدت و مدت بارندگی، نوع محصولات زراعتی، سیستم آبیاری، میزان وابستگی به باران و توانایی مدیریت آب و منابع طبیعی می باشد. بارندگی می‌تواند منجر به افزایش تأمین آب برای محصولات زراعتی شود. کمبود آب در مناطق زراعتی می‌تواند زمینه را برای کاهش تولید محصولات فراهم کند. کاهش بارش‌ها و کاهش ذخیره آب در منابع طبیعی ممکن است نیاز آبی محصولات را بیشتر کند و در نتیجه باعث کاهش محصولات زراعتی شود. در شرایط بارندگی، دهاقین ممکن است برای کاهش خطر و هزینه ها، سطح کشت را کاهش دهند. کاهش سطح کشت به دنبال کمبود آب و نیازمندی های آبی محصولات است و می‌تواند به کاهش تولید کلی محصولات زراعتی منجر شود. در برخی مناطق بارندگی، دهاقین ممکن است به الگوهای کشت مقاومت پذیرتر در برابر کمبود آب تمایل پیدا کنند. مثلاً برخی محصولات مقاوم به خشکسالی مانند گندم، جایگزین محصولات حساس‌تر به آبیاری شوند. این تغییرات الگوی کشت می‌تواند تأثیر قابل توجهی بر تولید و درآمد دهاقین داشته باشد. در مناطقی که بارندگی شدید باشد، وابستگی به آبیاری مصنوعی بیشتر می‌شود. استفاده از سیستم‌های آبیاری مصنوعی می‌تواند کمك کند تا محصولات زراعتی در شرایط کمبود آب بهبود یابند. بارندگی می‌تواند منجر به افزایش تأمین آب برای محصولات زراعتی شود، که باعث افزایش تولید محصولات می‌شود. در کشور ما افغانستان بارندگی موسم خاصی دارد، ماه های حمل و ثور به عنوان موسم خاصی برای بارندگی در کشور پنداشته شده و برای مهار خشکسالی و رشد زراعت از اهمیت خاص برخوردار است. در حال حاضر نظام کنونی در تلاش است تا آبهای که از بارش باران و برف در کشور به وجود آمده است را ذخیره نماید تا سطح آب بلند رفته و در موسم خشکسالی در کشور از آن استفاده نماید. برای حل چالش خشکسالی در حال حاضر تلاش شده است برای جذب آبهای باران حفر های عمیق و بند های جدیدی ایجاد گردد تا باشد از ضیاع آب های بارش برف و باران جلوگیری شود.

با احترام

اداره

## د مالیې وزارت له لوري د روان ۱۴۰۳ مالي کال لپاره د بودیجوي واحدونو لسگونه پراختیایي پروژې تائید سوي دي



د مالیې وزارت د پالیسي معینیت اړوند د عامه پانگوني د مدیریت ریاست له لوري د روان (۱۴۰۳) مالي کال لپاره د بودیجوي واحدونو (۱۲۰) پراختیایي پروژې تائید سوي دي.
په تیر (۱۴۰۲) مالي کال کي (۳۰) بودیجوي واحدونو خپلي پراختیایي پروژې له مالیې وزارت سره شریکي کړي وې، د شریکو سوو پروژو له جملې (۳۹۵) پروژې د عامه پانگوني د مدیریت ریاست د پروژو د ارزوني کمېټې (PEC) له لوري؛ د اسلامي امارت د اقتصادي او مالي لومړیتوبونو سره سم وارزول سوې، چې له تحلیل او ارزوني وروسته، له دې شمېر څخه (۱۲۰) پراختیایي پروژې تائید او د ملي بودیجې په سند کي ځای پر ځای سوې، چې د عالیقدر امیر المؤمنین (حفظه الله) له لوري د ملي بودیجې له توشېح وروسته به؛ په روان (۱۴۰۳) مالي کال کي پلي سي.
د مالیې وزارت د پالیسي معینیت د عامه پانگوني لوی ریاست اړوند د عامه پانگوني د مدیریت ریاست له ملي لومړیتوبونو سره سم، د اسلام امارت اهدافو ته د رسېدو په موخه د غوره پروژو د ټاکلو، د مالي سرچینو د سپما او د پروژو د ستراتیژیک تحلیل لپاره د بودیجوي واحدونو د پراختیایي پروژو د مالي او اقتصادي تجزیې او تحلیل مسؤلیت په غاړه لري.
د یادوني وړ ده، چې د اسلامي امارت له بیا حاکمیت وروسته دغه ریاست یوازي هغه پروژې، چې د ملي بودیجې له لاري تمویلېږي ترلاسه او ارزوي او د اسلامي امارت د پراختیایي لومړیتوبونو او د وزارتونو او خپلواکو ادارو له پلانونو سره سم ئې ټاکي او د پلي کولو په موخه ئې تائیدوي.

## په تېر ۱۴۰۲مالي کال کي د هیواد د سترو گمرکونو چارو (۸،۲) سلنه پرمختگ کړی




په (۱۴۰۲) مالي کال کي د هیواد د گمرکونو د تخنیکي ارزوني ناسته د گمرکونو او عوایدو معین ملا عبدالقاهر (حاجي ادریس) په مشرۍ د یاد معینیت د غونډو په تالار کي جوړه سوه.
په دې ناسته کي، چې د گمرکونو لوی رئیس الحاج مفتي عبدالمتین سعید، د استخباراتو لوی ریاست د (۰۲) ریاست رئیس مولوي احمد الله زاهد، د گمرکونو لوی ریاست تخنیکي او عملیاتي مرستیالانو، یو شمېر رئیسانو او د ویډیو کنفرانس له لاري د ولایتي گمرکونو مسؤلینو هم گډون کړی وو.
په پیل کي د گمرکونو لوی رئیس ټولو گډونوالو ته ښه راغلاست ووایه او په اړوندو چارو کي ئې د ولایتي گمرکونو د مسؤلینو او کارکوونکو له صادقانه کړنو څخه مننه وکړه.
له اجنډاء سره سم د گمرکونو لوی ریاست د پلان جوړوني، پالیسي، څارني او ارزوني رئیس ښاغلي محمد وسیم عثمان له لوري په (۱۴۰۲) مالي کال کي په گمرکونو کي د ترسره سوو فعالیتونو په تړاو ټولیز راپور وړاندي سو او همدا راز په دې موده کي د عوایدو د راټولېدو، د هیواد په ټولو گمرکونو کي د ترسره سوي سوداگرۍ، د وارداتي توکو د گمرکي ارزښت او د سوداگریزو محمولو د شمېر او ثبت سوي وزن په اړه گډونوالو ته بشپړ معلومات وړاندي سول، په دې راپور کي د هیواد د سترو گمرکونو چاري د (۱۴۰۱) مالي کال په پرتله (۸،۲) سلنه مثبتي وښودل سوې.
د گمرکونو او عوایدو معین هم د ولایتي گمرکونو د مسؤلینو او کارکوونکو هڅي وستایلې او د ترسره سوو فعالیتونو څخه ئې مننه وکړه.
د ولایتي گمرکونو مسؤلینو هم په خپل وار سره په خپلو اړوندو کاري برخو کي د شته ستونزو یادونه وکړه، چې د گمرکونو لوی ریاست د رهبرۍ له لوري ئې د ژر حل کېدو ډاډ ورکړل سو.
د غونډې په پای کي په (۱۴۰۲) مالي کال کي د گمرکونو لوی ریاست له لوري د ترسره سوو کړنو او فعالیتونو لنډ راپور هم له گډونوالو سره شریک سو او په روان (۱۴۰۳) مالي کال کي د چارو د لا پرمختگ په موخه د یو لړ شته ستونزو پر حلولو او د ترتیب سوي پلان پر ښه عملي کولو هم، خبري او بحثونه وسول.


## د مالیې وزارت د گمرکونو او عوایدو معین د سمنگان او جوزجان ولایتونو له مستوفیتونو څخه لیدنه وکړه







د گمرکونو او عوایدو معین ښاغلي ملا عبدالقاهر (حاجي ادریس) سمنگان او جوزجان ولایتونو ته د خپل رسمي سفر په ترڅ کي د دغو ولایتونو له مستوفیتونو څخه لیدنه وکړه.
په دغو لیدنو کي، چې د یادو ولایتونو مستوفیانو او د مستوفیت کارکوونکو هم شتون درلود، ښاغلي ملا عبدالقاهر (حاجي ادریس) په (۱۴۰۲) کال کي د دغو مستوفیتونو د کارونو د ستاینې او قدردانۍ تر څنګ د چارو د لا ښه والي په موخه دوی ته یو لړ اړیني سپارښتني هم وکړې.
د یادوني وړ ده، چې له دې وړاندي هم ښاغلي ملا عبدالقاهر (حاجي ادریس) د یو شمېر ولایتونو مستوفیتونه له نږدې لیدلي او د چارو ارزونه ئې کړې وه.




د گمرکونو لوی رئیس د کندهار، نیمروز او فراه ولایتونو د گمرکونو له رئیسانو سره وکتل


م ۲




د عوایدو لوی ریاست له لوري د هیواد په ۳۴ ولایتونو کي د عامه پوهاوي بېنرونه نصب سول


م ۲



افغان ملي بانک
BANK-E-MILLIE AFGHAN


پروسه تغییر حساب بانکي معاشات کارمندان وزارت مالیه از نوی کابل بانک به بانک ملی افغان افتتاح گردید


م ۲




د هرات د گمرک ریاست له لوري بېلابېل ډول تاریخ تېر مواد وسوځول سول


م ۲




اهمیت اقتصادی ترانزیت هوایی


م ۳






ازبکستان او قطر د افغان ـ ټرانس د اورگاډي پټلۍ د پروژې پر پلي کېدو خبري وکړې


م ٤


# د گمرکونو لوی رئیس د کندهار، نیمروز او فراه ولایتونو د گمرکونو له رئیسانو سره وکتل




د کوچني اختر د رخصتیو له پای ته رسېدو سره هم مهاله، د گمرکونو لوی رئیس الحاج مفتي عبدالمتین سعید د یوه پلاوي په مشرۍ کندهار ولایت ته د رسمي سفر په ترڅ کې د کندهار، نیمروز او فراه ولایتونو د گمرکونو له رئیسانو سره وکتل او په یو لړ گمرکي مسایلو ئې خبري وکړې. نوموړي؛ مسؤلینو ته سپارښتنه وکړه، چې سوداگریز توکي په سمه توگه تشریح، بیې ایښودني، بررسي او لابراتوار ته جدي پاملرنه وکړي، په خپل وخت د سوداگرو او مراجعینو ستونزو ته ورسیږي، د سوداگریزو توکو د پراوونو ترسره کولو لپاره تر ټاکلي مودې زیات کار وکړي، خپل منځي همغږي رامنځته کړي او اداري سلسله مراتب مراعت کړي. ښاغلي سعید په تېر (۱۴۰۲) مالي کال کې د یادو گمرکونو ترسره سوي کړني، فعالیتونه او لاسته راوړني وستایلې او له مسؤلینو څخه ئې مننه وکړه.


# امور کاری وزارت مالیه بعد از تعطیلات عید سعید فطر به گونه عادی آغاز گردید

رهبری وزارت مالیه به مفید بودن برای جامعه و تحقق آرزو و رفع نیازی عمومی مردم متعهد بوده، بر همین اساس تمام کارمندان اعم از رهبری وزارت مالیه، معینان، رؤسا، مامورین و اجیران روز یکشنبه بعد از سپری کردن تعطیلات عید سعید فطر به وظیفه حاضر و کار های خویش را آغاز نمودند. کارمندان ضمن تبریکی عید سعید فطر و آرزوی قبولی طاعات و عبادات به درگاه حق، کارهای یومیه خویش را بخاطر خدمت به وطن و مردم با شور و نشاط آغاز نموده و از صلح سرتاسری در کشور اظهار خرسندی نمودند. اکنون تمامی امور به گونه عادی جریان داشته و کار های گمرکی اعم از صادرات، واردات، ترانزیت و طی مراحل محموله های تجاری دوباره آغاز گردیده است.



# د عوایدو لوی ریاست له لوري د هیواد په ۳۴ ولایتونو کې د عامه پوهاوي بېنرونه نصب سول





په یو معتدل نظام کې د ټولو مهمو چارو په تړاو ولس ته حساب او وضاحت ورکول یو منل سوی اصل گڼل کېږي، چې د همدې اصل پر بنسټ مالیې وزارت هم ولس ته د خپلو چارو د پوهاوي او حساب ورکولو په برخه کې یو لړ مهم فعالیتونه ترسره کړي دي. د همدې فعالیتونو او پروگرامونو په لړ کې، د عوایدو لوی ریاست د حقوقي خدمتونو او پالیسۍ ریاست له لوري د هیواد په (۳۴) ولایتونو کې د مالیاتو د ورکړې په تړاو د عامه پوهاوي ستر ستر بېنرونه نصب سول، چې د شپږو میاشتو لپاره به دوام وکړي. په دغه بېنرونو او بلبورډونو کې د مالیاتو د ورکړې په تړاو شعارونه ډیزاین سوي دي، چې ورسره به د مالیاتي اطاعت پذیرۍ کچه لوړه سي او د ولس ذهنیت به دې ته چمتو سي، چې د دوی پیسې په کومو گټورو برخو کې لگول کېږي. د یادوني وړه ده، چې یاد ریاست په روان (۱۴۰۳) مالي کال کې د مالیاتو اړوند د عامه پوهاوي په برخه کې ورته نور پروگرامونه هم په پام کې لري، چې ډېر ژر به ئې عملي چاري پیل سي.

# د ساتني او څانگړو عملیاتو تنفیذي قطعې مشرتابه د ولایتي مفرزو قوماندانانو سره انلاین ناسته وکړه




د مالیې وزارت اړوند د ساتني او ځانگړو عملیاتو تنفیذي قطعې قوماندانۍ د هیواد د ټولو ولایتونو، مستوفیتونو او گمرکونو له قوماندانانو سره پرلیکه (انلاین) ویډیویي بڼه ناسته وکړه. په دغه انلاین ناسته کې، د اختر په ورځو کې د اړینو امنیتي تدابیرو، په گمرکونو کې د امنیت د ښه ټینگښت، منسوبینو ته د اختر په ورځو کې د رخصتۍ پر منظم پلان او په دې ورځو کې، په امنیتي مفرزو کې د مسؤلینو په شتون خبري وسوې او د رهبري له لوري ولایتي مسؤلینو سره لازم هدایت شریک سول. د ساتني او ځانگړو عملیاتو تنفیذي قطعې د رهبرۍ له لوري ټینگار وسو، چې ټول ولایتي مسؤلین دي، د تل په څېر له وظیفوي غفلت څخه په جدي توگه ځان وساتي او د اختر په ورځو کې دي د مستوفیتونو او گمرکونو امنیت ته ځانگړې پاملرنه وکړي، تر څو په گمرکونو کې د فرصت طلبه اشخاصو د احتمالي غیر قانوني کړنو جدي مخنیوی وسي. په پای کې د ولایتي مسؤلینو ستونزي او وړاندیزونه واورېدل سول او د چارو د لا ښه والي په موخه ورته غوره لاري چاري وړاندي سوې.

# پروسه تغییر حساب بانکي معاشات کارمندان وزارت ماليه از نوی کابل بانک به بانک ملی افغان افتتاح گرديد

پروسه تغییر حساب بانکی معاشات کارمندان وزارت مالیه از نوی کابل بانک به بانک ملی افغان افتتاح گردید. در افتتاح این پروسه نصرت الله محمود رئیس عمومی خزائن، محمد عظیم رئیس تأدیات، عبدالملک اشرف آمر سیستم بانکی سازی معاشات کارمندان دولتی، فخرالدین فخری معاون آمریت مذکور و مسئولین بانک ملی افغان اشتراک داشتند. این پروسه با افتتاح حساب بانکی معاشات رئیس عمومی خزائن و چند تن دیگر از مسئولین این ریاست رسماً آغاز گردید. پروسه تغییر حسابات معاش کارمندان به خاطر ایجاد تسهیلات هرچه بیشتر در پرداخت و توزیع معاشات، جلوگیری از ازدحام بیش از حد در شعبات نوی کابل بانک و ضیاع وقت کارمندان و تقویت سایر بانک های تجارتی روی دست گرفته شده است. قابل یاد آوری است که این پروسه به اساس پیشنهاد مسئولین ریاست عمومی خزائن، بعد از فیصله کمیته آفرگشایی برای امضاء تفاهمنامه با بانک های تجارتی و منظوری رهبری وزارت مالیه، شروع گردیده است.

# د هرات د گمرک ریاست له لوري بېلابېل ډول تاریخ تېر مواد وسوځول سول



د هرات گمرک د ریاست له لوري د څلورو اړوندو ادارو د یوه پلاوي تر څارني لاندي (۲۰۰) ټنه ممنوعه او تاریخ تېر توکي له منځه یووړل سول. په دغو توکو کې، انساني او حیواني درمل، تېزاب، خوراکي او د سینگار توکي شامل ول، چې د محکمې له پرېکړې وروسته د ټاکل سوي هیئت له لوري، له منځه یووړل سول. د مالیې وزارت له لوري د هیواد په ټولو گمرکونو کې د ممنوعه او تاریخ تېرو موادو د واردولو په کلکه څارنه او مخنیوی کېږي او ټول واردېدونکي خوراکي او د سینگار توکي او درمل له هر اړخیزي تجزیې او څېړني وروسته طی مراحل او د هیواد بازارونو ته وړاندي کېږي.

شتمنی SHTAMANI اوونیزه

# اهمیت اقتصادی ترانزیت هوایی

طاوس فرزاد



**مقدمه**

ترانسپورت در اقتصاد جوامع بشری نقش خیلی ارزنده را بازی می نماید. چنانچه بعد از تولید محصولات باید غرض فروش به بازار و یا مصرف کننده منتقل گردد و یا شخصی غرض بازدید و یا اجرای امور شخصی و یا تجارتی از محلی به محل دیگر سفر می نماید و یا پُست و نامه‌ای از جایی به جایی فرستاده می شود. همه این امور را باید بخش خدمات ترانسپورت انجام دهد، انجام بهتر این خدمات در شرایط امروز بستگی به موجودیت وسایل، امکانات و تسهیلاتی لازم در بخش ترانسپورت زمینی، جاده ها و سرکها (شاهراه های بزرگ)، پارک، هوتل، تانکهای تیل کنار شاهراه ها و ایستگاه های بس، خطوط راه های آهن و خدمات تخنیکی مربوطه، همچنان در بخش ترانسپورت هوایی طیاره ها، میدان های مجهز و معیاری، ترمینل ها و خدمات ترمینلی مجهز با سالون ترانزیت، فروشگاه ها، رستورانت ها، خدمات پُستی و بانکی و پارکینگ های موتر، در بخش ترانسپورت بحری کشتی های مسافر بر و باربر، لنگر گاه ها، بنادر، ترمینل ها و خدمات بندری، و غیره دارد. هر گاه این خدمات جنبه بین المللی داشته باشد، باید حل تمامی مقررات و تعامل حقوقی در زمینه های ترانزیت و گمرک مدنظر گرفته شود. خدمات ترانسپورت در افغانستان در حال حاضر شامل دو بخش زمینی و هوایی می باشد. بیشتر از همه سکتور ترانسپورت هوایی در صنعت و تجارت و در نهایت پیشرفت اقتصاد ملی یک کشور نقشی بارزی داشته که این از جمله رکن اساسی اقتصاد ملی یک کشور به شمار میرود، که در نوشته حاضر پیرامون اهمیت ترانسپورت هوایی در مسایلی اقتصادی و خدماتی و کارکرد های امارت اسلامی در تجهیز این سکتور و عواید از بابت حق العبور طیاره ها از فضای کشور نکاتی را برای مطالعه علاقمندان جسته جسته به رشتهٔ تحریر در آورده ام.

**نقش اقتصادی ترانسپورت هوایی:**

ترانسپورت هوایی یکی از مهم ترین سکتور ترانسپورتی در جهان است که روزانه هزاران نفر و صد ها تن اموال تجارتی را از یکجا به جای دیگر انتقال میدهد، که فاصله های چند هزار کیلو متری را در ظرف چند ساعت طی می کند. سکتور ترانسپورت هوایی در پیشرفت صنعت و تجارت و در نهایت اقتصاد ملی یک کشور رول مهم دارد، که برای بلند بردن سطح زنده گی مردم در یک کشور نقش بارزی را ایفاء می کند، اکیداً ترانسپورت هوایی ذریعه یا وسیله است که توسط آن اموال تجارتی به مارکیت های جهانی و بازار های داخلی و همچنان اشخاص و افراد را در داخل کشور و در سطح جهان به مناطق معین انتقال میدهد. ترانسپورت هوایی که عبارت است از طیارات، که روزمره در تمام ممالک و شهر های بزرگ و کوچک همیشه در پرواز اند. این نوع ترانسپورت سریع السیر ترین نوع ترانسپورت بوده ولی قیمت ترین ترانسپورت هم می باشد که در حمل و نقل مسافرین در سطع بین المللی نقش مهم ایفاء می نماید. مزیت آن برعلاوهٔ سرعت زیاد در کیفیت عرضه خدمات، قابلیت حرکت در مناطق مختلف جغرافیایی، امکانات ساده وسعت یافتن تغییر خط السیر نیز می باشد. ترانسپورت هوایی برای ارتباط با مناطق جداگانه و صعب العبور جهان غیر قابل انکار است. سکتور ترانسپورت هوایی در اقتصاد افغانستان با توجه به نبود راه های خطوط آهن و بحری و توسعه نیافتگی ترانسپورت زمینی موتر (به ویژه ترانسپورت بین المللی) و کوهستانی بودن از اهمیت و نقش کلیدی برخوردار است و در بخش ترافیک داخلی (پرواز های داخلی) و ترافیک بین المللی (پرواز های خارجی) با موجودیت چندین کمپنی هوانوردی با داشتن چندین طیاره ها مصروف فعالیت در انتقال مسافرین، اموال و پست می باشند. که از ارزش اقتصادی خاصی برای کشور ما برخوردار می باشد. از سوی دیگر در بخش حمل و نقل هوایی کسب عواید از بابت پروازهای عبوری، یکی از بهترین عوایدی است که در خزینه حکومت جمع آوری می شود. عبور از آسمان کشور به دلیل امنیت و کوتاه کردن مسیر، برای شرکت‌های هوایی و طیاره های که اموال تجارتی و اشخاص را انتقال می دهند دارای اهمیت می باشد؛ عبور این طیارات بر فراز آسمان کشور نیز عواید به خزینه حکومت جمع می شود.



# اعلانات داوطلبی

**د کابل ښاروالۍ (٦) مي ناحيې اړوند د فرمانونو او حکمونو د څارنې او تعقیب لوی ریاست په حویلۍ کې د یو باب کانټین د داوطلبۍ خبرتیا!**

د مالیې وزارت د دولتي املاکو لوی ریاست غواړي، چې د کابل ښاروالۍ (٦) مي ناحیې اړوند د فرمانونو او حکمونو د څارنې او تعقیب لوی ریاست په حویلۍ کې د یو باب کانټین، د (۱۹۰.۵) متره مربع مساحت په لرلو سره یو باب د ډوډۍ خوړلو صالون، یو باب پخلنځی، یو باب د خرڅلاو خونه او یو باب د عکاسۍ او فوټوکاپۍ خوني درلودونکي ده او میاشتنۍ ابتدایي کرایه ئې (۳۰۰۰۰) افغانۍ ده، د داوطلبۍ لپاره اعلان ته وړاندې کړي.
کوردینات(جی.پی.اس نمبر):۳٤,٤٧٧٤٩٩٣١-٦٩,١١٨٠٦٩٤١
ټول هغه حکمي او حقیقي اشخاص، چې غواړي ذکر سوی ملکیت په کرایه ونیسي، کولای سي، چې خپل غوښتنلیکونه د (۱۴۰۳/حمل/۲۹ مي نېټې څخه د ۱۴۰۳/ثور/ ۱۷) نېټې پوري د دولتي املاکو لوی ریاست ته و سپاري او شرطپاڼه تر لاسه کړي.
د آفرگشایۍ ټاکلې نېټه: د (ثور ۱۸ مه ۱۴۰۳) د سهار (۹) بجې او (۳۰) دقیقې.
ځای: سینما پامیر (۱۴) پوړیزه ودانۍ، (۵) پوړ، د دولتي املاکو لوی ریاست –د مرکزي ترونونو د ارزونې لوی مدیریت.

**د کابل ښاروالۍ لومړۍ ناحیې اړوند د (۳) دولتي ملکیتونو د داوطلبۍ خبرتیا!**

د مالیې وزارت د دولتي املاکو لوی ریاست غواړي، چې لاندې (۳) دولتي ملکیتونه په جلا جلا ډول داوطلبۍ ته وړاندې کړي.
۱- د کابل ښاروالۍ لومړۍ ناحیې اړوند سینما پامیر ۱۴ پوړیزې ودانۍ لومړي پوړ کې یو باب (۳۴) نمبر وټرین چې ۲.۵ متره مربع مساحت لري او میاشتنۍ ابتدایي کرایه ئې (۱۰۰۰۰) افغانۍ ده.
۲- د کابل ښاروالۍ لومړۍ ناحیې اړوند سینما پامیر ۱۴ پوړیزې ودانۍ لومړي پوړ کې یو باب (۳٦) شمېره غرفه چې ۱.۹ متره مربع مساحت لري او میاشتنۍ ابتدایي کرایه ئې (۱۰۰۰۰) افغانۍ ده.
۳- د کابل ښاروالۍ لومړۍ ناحیې اړوند سینما پامیر ۱۴ پوړیزې ودانۍ لومړي پوړ کې یو باب (۳۷) شمېره غرفه چې ۱.۹ متره مربع مساحت لري او میاشتنۍ ابتدایي کرایه ئې (۱۰۰۰۰) افغانۍ ده.
کوردینات(جی.پی.اس نمبر): ۳٤,٥١٣٤٢-٦٩,١٧٢١٩
هغه حقیقي او حکمي اشخاص، چې غواړي پورتني ملکیتونه په کرایه ونیسي کولای سي د (حمل/۲۹ /۱۴۰۳) څخه د ثور/٦ /۱۴۰۳) پوري خپلي غوښتني د دولتي املاکو لوی ریاست ته تسلیم او شرطپاڼه ترلاسه کړي.
آدرس: د سینما پامیر (۱۴) پوړیزه ودانۍ، (۵) پوړ، د مرکزي ترونونو د ارزونې لوی مدیریت.
د داوطلبۍ مجلس: د (ثور/۱۴۰۳/۸) نېټه، د ماسپښین ۹:۳۰ ترسره کېږي.
د اړیکو شمېرې: ۰۲۰۲۹۲٤٦۰۷ - ۰۲۰۲۹۲٤٦٢٤

**اعلان داوطلبی (۱۰) باب دوکان واقع مندوی کابل مربوط مدینه مارکیت**

ریاست عمومی املاک دولتی وزارت مالیه به تعداد(۱۰) باب دوکان ذیل واقع کوچه مندوی کابل مربوط مدینه مارکیت را طور جداگانه از طریق پروسه داوطلبی به شکل آفر سربسته به اعلان می سپارد.
۱- یک باب دوکان نمبر۱ به مساحت ۱۲ مترمربع واقع کوچه مندوی مدینه مارکیت به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ ( ۲٤٧٨۳,۱٥) افغانی.
۲- یک باب دوکان نمبر۲ به مساحت ۱٦ مترمربع واقع کوچه مندوی مربوط مدینه مارکیت به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ(۳۲۱۹۰,۲۸) افغانی.
۳- یک باب دوکان نمبر۳ به مساحت (۱۳,٦۰) مترمربع واقع کوچه مندوی مربوط مدینه مارکیت به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ (۲۲۱٤۹) افغانی.
۴- یک باب دوکان نمبر٤ به مساحت(۲۲,۳۳) مترمربع واقع کوچه مندوی مربوط مدینه مارکیت به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ(۳۸۱٥٤,۹) افغانی.
۵- یک باب دوکان نمبر٥ به مساحت (۹) مترمربع واقع کوچه مندوی مربوط مدینه مارکیت به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ(۱۲۹۰۷) افغانی.
٦- یک باب دوکان نمبر٦ به مساحت(۹,۳٦) مترمربع واقع کوچه مندوی مربوط مدینه مارکیت به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ(۱۲۹۰۷) افغانی.
۷- یک باب دوکان نمبر۷ به مساحت (۹) مترمربع واقع کوچه مندوی مربوط مدینه مارکیت به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ(۱۱٦٤۲) افغانی.
۸- یک باب دوکان نمبر۸ به مساحت(۹,۳٦) مترمربع واقع کوچه مندوی مربوط مدینه مارکیت به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ (۱۱٦٤۲) افغانی.
۹- یک باب دوکان نمبر۹ به مساحت(۸,٦٤) مترمربع واقع کوچه مندوی مربوط مدینه مارکیت به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ(۱۲۱٤۸) افغانی.
۱۰- یک باب دوکان نمبر ۱۰ به مساحت (۸,٦٤) مترمربع واقع کوچه مندوی مربوط مدینه مارکیت به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ(۱۲۷٥٥,٤) افغانی.
کوردینات(جی.پی.اس نمبر) ۳٤,٥١٧٤١-٦٩,١٧٧٢٤
اشخاص حقیقی و حکمی که خواهان به کرایه گرفتن جایدادهای فوق می باشند میتوانند در خواست های شان را بعد از (۲۱ / حمل /۱۴۰۳ الی ۱۰/ ثور/ ۱۴۰۳) به ریاست عمومی املاک دولتی تسلیم نموده شرطنامه را اخذ نمایند.
آدرس: سینما پامیر تعمیر (۱٤) منزله، منزل (٥) مدیریت عمومی ارزیابی قرار دادهای مرکزی.
مجلس داوطلبی: تاریخ (۱۱ / ثور/ ۱۴۰۳) به ساعت ۹:۳۰ قبل از ظهر برگزار میگردد.
شماره تماس: ۰۲۰۲۹۲٤٦۰۷ - ۰۲۰۲۹۲٤٦٢٤

**د کابل ښاروالۍ (۱۵) مي ناحیې آریا ښارگوټي اړوند د هوشمند ښارگوټي د (۵۱.۸۸) جریبه ځمکې د داوطلبۍ خبرتیا!**

د مالیې وزارت د دولتي املاکو لوی ریاست غواړي، چې د کابل ښاروالۍ (۱۵) مي ناحیې د آریا ښارگوټي اړوند د هوشمند ښارگوټي (۵۱.۸۸) جریبه ځمکه چې میاشتنۍ ابتدایي کرایه ئې (۲،۳۳۴،٦۰۰) افغانۍ ده، د لنډ مهال لپاره داوطلبۍ ته وړاندې کړي.
کوردینات(جی.پی.اس نمبر۳٤,٥٦۳٦-٦٩,۱۸۷٥)
ټول هغه حکمي او حقیقي اشخاص، چې غواړي ذکر سوی ملکیت په کرایه ونیسي، کولای سي، چې خپل غوښتنلیکونه د (۱۴۰۳/حمل/۲۹ مي نېټې څخه د ۱۴۰۳/ثور/ ۱۱) نېټې پوري د دولتي املاکو لوی ریاست ته وسپاري او شرطپاڼه د (۳۰۰۰) افغانیو په بدل کې پرته له بیا ورکړې تر لاسه کړي.
د آفرگشایۍ ټاکلې نېټه: د (ثور ۱۲ مه ۱۴۰۳) د سهار (۹) بجې او (۳۰) دقیقې.
ځای: سینما پامیر (۱۴) پوړیزه ودانۍ، (۵) پوړ، د دولتي املاکو لوی ریاست – د مرکزي ترونونو د ارزونې لوی مدیریت.
د اړیکو شمېرې: ۰۲۰۲۹۲٤٦۰۷ - ۰۲۰۲۹۲٤٦٢٤

شتمنی
SHTAMANI
اوونیزه
د امتیاز خښتن: د ماليې وزارت
مسؤل مدیر: احمد ولي حقمل
مرستیال: شمس الدین عاطف
د کتنپلاوي تر نظر لاندې
ویبسایټ: mof.gov.af
ایکس پاڼه: Afghanistan mof
یوټیوب: afghanistan mof
شمیره : ۰۲۰۲۹۲۴۴۴۰(+)



# Major Customs Affairs Progressed by 8.2% in Last FY1402 - MoF




The 'technical assessment meeting' of the country's customs in fiscal year 1402 was held in the meeting hall of DM for Customs and Revenues under the chairmanship of Mulla Abdul Qahir Haji Idris. In this meeting, the General Director of Customs, Alhaj Mufti Abdul Matin Saeed; the Director of (02) of General Directorate of Intelligence, Maulawi Ahmadullah Zahid; technical and operational assistants of the General Directorate of Customs and as a number of Directors have taken part. However, provincial officials of Customs have been also attended via video conference. Initially, the General Director of Customs welcomed all the participants and thanked the officials and staffs of the provincial customs for their sincere actions in the related matters. According to the agenda, Mr. Muhammad Wasim Osman, the Director of Planning, Policy, Monitoring and Evaluation of the General Directorate of Customs, presented a comprehensive report regarding the activities carried out in the customs in FY1402. Likewise, during this period, the participants were given complete information about the collection of revenues, the trade carried out in all the customs offices of the country, the customs value of imported goods, and the number and registered weight of commercial shipments, which in this report in FY1402, the country's major customs affairs showed a positive increase of 8.2% compared to FY1401. The Deputy Minister of Customs and Revenues has also praised the efforts of the officials and staffs of the provincial customs and thanked them for their activities. The officials of the provincial customs have also mentioned the existing problems in their respective work areas, which were assured to be solved soon by the leadership of the General Directorate of Customs. At the end of the meeting, a concise report of the actions and activities carried out by the General Directorate of Customs in FY1402 was shared with the participants and in order to further develop of the affairs in the current FY1403, there were discussions on unraveling a series of existing problems and on better implementation of the plan.




## ازبکستان او قطر د افغان ـ ټرانس د اورګاډي پټلۍ د پروژې پر پلي کېدو خبرې و کړې




د ازرنیوز ـ AZERNEWS په نوم یوې اذربایجانی رسنۍ د افغانستان د اورګاډي پټلۍ خوا ته پام اړولی دئ او په هکله ئې راپور خپور کړی دئ، چې وایي ازبکستان او قطر د افغانستان د ټرانس - افغان رېل پټلۍ د جوړولو د پروژې د عملي کېدو په باب بحث و کړ. په راپور کې ئې د بحث په هکله دا ډول ټکي رانغښتل سوي دي: «دا پروژه د ازبکستان د ولسمشر شوکت میرضیایف په مشرۍ د قطر د لومړي وزیر او د بهرنیو چارو وزیر شیخ محمد بن عبدالرحمن آل ثاني په مشرۍ د پلاوي سره په کتنه کې و څېړل سوه.» راپور وایي، چې پر دې سربېره دواړو خواوو د لیدلو په مهال د سوداګرۍ او اقتصاد، پانګوني او ټرانسپورټ او مواصلاتو په برخو کې د دوه اړخیزو همکاریو پر پراختیا مجلس و کړ. د اورګاډي پټلۍ جوړولو دا پروژه، چې په سوداګریز لحاظ مرکزي اسیا له سویلي اسیا سره نښلوي، له مخې ئې دواړو هیوادونو د ګډې پانګوني د پروژو د ترغیب او ژر تر ژره د دوی د مالي ملاتړ له پاره د اغېزمن میکانیزم د جوړېدو د ارزښت ټکي یاداوري کړل. راپور کاږي، چې د (۲۰۲۳)ز په اکتوبر میاشت کې د ازبکستان د اورګاډي پټلۍ (JSC) د قطر د ټرانسپورټ وزارت ته د ټرانسفګان ـ Transfagan رېل پټلۍ پروژه وړاندي کړه او بیا دواړو ملکونو د پروژې په پلي کولو کې د قطر د ګډون د تضمین کولو پر څرنګوالي بحث و کړ. د ازبکستان، افغانستان او پاکستان چارواکو د (۲۰۲۱)ز په فیبرورۍ کې د ترمز ـــ مزار شریف ـــ کابل - پېښور رېل ګاډۍ د جوړولو له پاره د سړک نقشه لاسلیک کړه. راپور وایي، چې د محاسبې په اساس د پنځه بیلیونه امریکایي ډالرو په لومړني لګښت سره نوی ټرانسپورټي دهلېز، چې تر (۲۰) میلیون ټنو پوري د محمولو د ټرانزیټ ظرفیت لري باید اروپا، روسیه، ازبکستان، افغانستان، پاکستان او هندوستان او بیا همداسې د سویل ختیځې اسیا دولتونه سره و نښلوي.

# Deputy Minister of Customs, Revenues of MoF Visits Mustofiyats of Samangan, Jawzjan Provinces

Hon. Mulla Abdul Qahir (aka Haji Idris), the Deputy Minister of Customs and Revenues has visited the Mustofiyats of Samangan and Jawzjan provinces amid his official travel. In these meetings, which were attended by the Mustofis of the said provinces and the staff of the Mustofiyats, the Deputy Minister despite appreciating the affairs of the said Mustofiyats in 1402, has given them a series of necessary recommendations for the improvement of their affairs. It is merely worth noting that even before this visit, honorable Deputy Minister also had closely observed the Mustofiyats of some provinces and evaluated the affairs.



د شتمنۍ اوونیزه د ټولو قدرمنو لوستونکو د مقالو منونکې ده؛ مقالې باید اقتصادي او د ماليې وزارت له اصولو سره سمې وي. له ټولو درنو همکارانو او د هیواد له لیکوالو څخه هیله کوو، چې خپلې مقالې د دغه برېښنالیک tamas@mof.gov.af له لارې موږ ته راواستوي.